مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۳/۰۴/۱۹

ساینسپوهانو علمي څېړنه کې موندلي
سخته روژه د زده کونکو ښوونېزه سویه لوړوي

په اروپا کې ډېر مسلمان زده کونکي روژه نیول خورا جدي نیسي. د روژې مبارکه میاشت د نړۍ اټکل 1,8 میلیاردو مسلمانانو لپاره د هر کال په ځیر بیا پیل شوي او په ورستۍ لسیزه کې ده. روژه د اسلامي جنتري(هجری) نهمه میاشت ده. روژه د نړۍ ټولو مسلمانانو ته یوه سپېڅلي میاشت ده. د اسلام دین له پینځو رکنونو څخه یو رکن روژه دی. له همدې امله روژه د اسلام دین یوه لازمي مهمه برخه ده. رمضان د عبادت، رحمت، برکت، مغفرت او د سپما خبرښېګڼو وخت دی. د همدې میاشتې په بهیر کې مسلمانان د لمر راختلو څخه تر لمر لوېدو پورې روژه نیسي. تر څو پر محمد ص د قرانکریم نزول او لومړۍ اسماني وحي یادولو درنښت ترسره کړي. د خوراک څښاک څخه ډډه کولو تر څنګ د مسلمانانو پرهېزګاري ته بلنه ورکوي. د روژې ډېرې نورې دنیاوي او اوخروي ګټې مور مسلمانان پېژنو. ځکه رمضان د هر هجري شمسي کال په پیل کې پیل کیږي او د کال په ځلورو واړو موسمونو په اوږدو کې تېریږي، په پایله کې د وخت په تېریدو سره د روژې په نېټه کې بدلون راځي، د روژې کلنۍ یوه بشپړه دوره هر 33 کلونو ورسته بشپړ کیږي.

یوې تازه علمي څېړنې زده کونکو روژه تیانو ته د روژې نیولو ورسته د حیرانونکو اغېزو په اړه خبر ورکوي. د روژې په میاشت کې د اوږدې مودې روژه نیولو ورسته د مسلمانو ځوانانو زده کونکو په ښوونځي فعالیتونو کې، درسي سویه، درسي لیاقت او د ازموینې په نمرو باندې مثبت اغېز لري. دا تازه علمي څېړنېزه موندنې په اروپا کې د دوو بېلا بېلو څېړنېزو علمي مرکزونو لخوا تائید شوې او منلې شوې دي.

ساینپوهان په دې اند دي او داسې انګیري، چې د دې لامل د خوراک په کمښت کې نه دی پروت، بلکې ساینسپوهانو دا پلټلې، چې د روژې شدت څنګه د زده کونکو په تعلیمي او ښوونزو پایلو باندې اغېز لري. دوی په خپله علمي څېړنه کې د روژې کلنې دورې، د روژې زماني او مکاني بدلونونه هم په پام کې نیولې دي. دغه علمي څېړنه په اسلامي هیوادونو کې د اوږدې مودې روژه نیول د زده کونکو ښوونېزه لاسته راوړنې سره هم تړاو لري. دغه موندنې د (PISA) څېړنېز مرکز لخوا هم د زده کونکو ازموینې او ښو نمرو په ترلاسه کولو کې تائید شوې دي. دغې علمي مرکز په ټوله اروپا کې یا په هر هیواد کې د میشتو مسلمانو زده کونکو او د غیر مسلمانو زده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کونکو ښونځې فعالیتونه یا سویلي سره پرتله کړي دي. دغه نوی څېړنه داسي شواهد وړاندې کوي، چې روژه د مسلمانو زده کونکو په لیاقت او نمرو باندې ښه مثبت اغیز شیندي، په ځانګړي توګه په هغه سیمو کې چې ډیر روژه تیان شتون ولري.

هره ورځ د لمر ختو او لمر لویدو تر منځ د خوراک او څښاک د منع کیدلو سربیره، ډیر مسلمانان د روژې په میاشت کې په ټولنیزو فعالیتونو کې هم برخه اخلي. په دې کې د ببلګې په توګه هره ورځ د ملګرو او کورنۍ سره په ګډه د لمانځونو او تراویح ورسته د خپلې اسلامي ټولنې له وګړو سره ناسته پاسته او روژه ماتول په کې شامل دي. په دې دواړو څېړنو کې څېړل شوي دي، چې څنګه د روژې شدت د روژې زماني او مکاني تنوع ته په کتو سره د ښوونځي زده کونکو په فعالیت او د ازموینې په نتایجو باندې مثبت اغیز لري.
په اسلامي هیوادونو کې ښځینه او نارینه ځوانان او تنکي ځوانان هم کولې شي د اوږدې مودې لپاره روژه ونیسي، روژه د زده کونکو په ښوونځې فعالیت او لیاقت باندې مثبت اغیز لري. دغه علمي تازه څېړنه د Journal of Economic Behavior &Organization لخوا یا په اقتصادي ژورنال کې خپره شوې هم ده. څېړنه ښیي، چې روژه په ښوونځې فعالیت او لیاقت باندې ښه مثبت اغیزه لري.
بلې نړیواله اروپایي څېړنه چې په شپږو اروپایي هیوادونو کې د زده کړې په ټراو ترسره شوې. په نامه د PISA (Programme for International Student Assesment) ده. دغه څېړنیز نړیوال مرکز د زده کونکو ښوونیزه لیاقت او فعالیت سره پرتله کوي. دغې څېړنیز مرکز هم مشاهده کړې او ثابته کړې، چې د روژې په میاشت کې د مسلمانو زده کونکو ښوونیزه بریاوې او لاسته راوړنو د پامور زیاتوالي لیدل کیږي. کله چې د څېړونکو پوهانو دې تکې ته پام شو، چې اکثراً په روژه کې یا د روژې ورسته د مسلمانو زده کونکو لاسته راوړنې او فعالیت ښه کیږي، پوهان په فکر کې شول، چې د دې لامل څه شي دی. دا چې په روژه کې د مسلمانو زده کونکو ښوونځې فعالیت، لیاقت او نمرې لوړیږي. ښایي لامل یې په سخته او اوږده روژه نیولو کې نه وي. روژه په خپله حتی د بدن لپاره خورا سخته او ګرانه پرېوځي، چې په پایله کې لږ منفي اغیز هم کوي. ښایي د مسلمانو زده کونکو د ښوونځې فعالیت او لاسته راوړنې اصلي لامل په دې کې نغښتی وي، چې دوی د روژې په میاشت کې ډیر ټولنیزه فعالیتونه ترسره کوي. د روژې مبارکې میاشت ماهیت په دې کې نغښتی دی، چې یو مسلمان خپل دروني فکر او تفکر ته ورننوځي او خپل ټولنیز احساس مسوولیت مشخصوي. په ګډه روژه ماتې، جومات کې یو ځای لمونځ کول، له ملګرو او کورنۍ سره لیده کاته هم د دې کړنو برخې دي. د روژ په میاشت کې په ټولنیزه ډول یا اجتماعي ډول سره یو ځای کیدل، دا ټول په ښوونځې فعالیت باندې مثبت اغیز لري.
څېړونکي په دې اند دي، چې د روژې په سخته میاشت کې ګډې شریکې تجربې د مخ پر وده ژنکیو یا ځوانانو سره د دوی هویت په جوړولو کې مرسته کوي.
په داسي حال کې چې د روژې په میاشت کې نوی ځوانانو یا ژنې په ګډه روژه نیسي، ځوانان ملګرتیاوې او نوي اړیکې جوړوي، د دې برسېره روژه په ځانګړې توګه دوی ته ورښېي، چې په ګډه روژه ونیسي، د ملګرو سره یو ځای کیږي، دا په خپله دوی ته یو پیاوړي با ثباته چاپیریال وربرابروي. دا هم د دوی په ښوونځې فعالیت باندې مثبت اغیز لري. دا موندنې د دې فرضیې سره مطابقت لري، چې د ډېرې سختې روژې په بهیر کې ګډې تجربې د ټولنیزې پانګې او ټولنیز هویت رامنځته کولو ته وده ورکوي، چې د زده کونکی په ښوونځې فعالیتونو باندې مثبت اغیز لري. لامل یې شي ښایي همدا یې لامل وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د جرمني او سويس پوهنتوني ساينسپوهانو او څېړنپوهان د مسلمانو زده کونکو په ښوونېزه فعاليت او لياقت باندې د روژې په مياشت کې د اوږدې روژې نيولو ورسته د مثبتو اغېزو ثبوتونه وړاندې کړي دي. دا ثبوتونه او شواهد د دوو خپلواکو نړيوالو څېړنيزو مرکزونو لخوا کوم چې د محصلينو او زده کونکو ښوونېزه لاسته راوړنې ازموينې تر څېړنې لاندې نيسي اوس تازه وړاندې شوي دي، کوم چې په اسلامی هيوادونو او په عيسوي اروپايي هيوادونو کې په مېشتو د مسلمانو کډوالو باندې تمرکز لري.
څېړنپوهانو د مسلمانو زده کونکو د تعليمي لاسته راوړنو په اړه د اسلامي ديني عبادتونو اغېز تحليلولو او تجزيه کولو لپاره د هيوادونو ځانګړتياو ته په کتو سره د ورځنۍ روژه نيولو اغېزې د زده کونکو د ښوونېزه لاسته راوني په دوو بېلابېلو جلا خو هممهاله نړيوالو تحقيقاتي څېړنېزه مرکزونو کې بيا له سره پرتله کړي دي. د دواړو څېړنزو مرکزنو نومونه په لاندې دول دي.

PISA او TIMSS (Trends in International Mathematics and Science Study) (Programme for International Student Assessment)

دغه څېړني د 1995 کالونو څخه تر 2019 کلونو پورې د (TIMSS) نړيوال څېړنېز مرکز لخوا ډيټا يا لاسوندونه په اوو پړاونو کې راټول شوي دي. دغه ټول راټول شوي مالومات او لاسوندونه ښيي چې د روژې په مياشت کې ګډې شريکې تجربې، د ټولنيزې پانګې رامنځته کول،(ګډ خوراک، څښاک او عبادت) زده کونکې زده کړې وړتياو ته هڅوي او ټولنيز هويت ته وده ورکوي.
د څېړنېز مرکز (TIMSS) لخوا د ترسره شوي ازموينه او ارزونه کې په کومو هيوادونو کې چې اکثريت مسلمانان مېشت دی. د اتم ټولګي زده کونکو په رياضی مضامينو کې (436) او سياسنس مضامينو کې (449) په هغو هيوادونو کې عيسويان اکثريت دي، په رياضی مضامينو کې (500) او اجتماعيات مضامينو کې (495) په پرتلېز ډول د پامور اوسط ټيټې نمرې درلودلې. د زده کونکو په تعليمي فعاليت کې دا جوته تشه د کورنيو مياشتنې خالص عايد کچه په پام کې نيول شوي او له همدې امله يوازې د سېمو ترمينځ د اقتصادي پرمختګ پراونو ته منسوب کيږي.
د دې څېړنې له مخې د روژې په مياشت کې اوږده ورځنۍ روژه د مسلمانو ځوانانو د ښوونځي په ښوونېزه لياقت او نمرو باندې مثبت اغېز لري. په ځانګړي توګه د روژې په مياشت کې بېلابېل ټولنيز فعاليتونه له مسلمانو ځوانانو سره مرسته کوي، چې نوي اړيکې جوړې يا رامنځ ته کړي او همدارنګه د ښوونځي په تولګي کې يو ګډ هويت رامنځته کوي. ساينسپوهان داسي انګېرنې لري، چې روژه د يوېمودې لپاره د زده کونکي د ښوونېزه فعاليت په لوړولو کې ګټور پرېوځي. دغه خبره د همدې څېړنې مشر د جرمني کولن پوهنتون کې د اقتصاد او ټولنېزو علومو پوهنځي کې د اقتصادي تاريخ پروفيسور او د جرمني عامه پاليسۍ په ماريکيټ کې د Exzellenzcluster Markets&Public ECONtribute: علمي غړی دی. دا د کولن پوهنتون او بن پوهنتون ترمنځ د يو ګډ نوښت په نامه يو څېړنېز علمي مرکز نوم دی، چې اقتصاد، سياست او ټولنې ترمنځ اړيکې څېړي او تحليلوي. څېړنپوهانو په خپلو تيرو تحقيقاتي يا پلټونو او مطالعاتو کې د زده کونکو په ښوونېزو فعاليتونو باندې د روژې مستقيم اغېزې په ځانګړي توګه څېړلې ترسره کړي دي.
په هرصورت د څېړنې مرکز مشر وايي، مور دا په ډاګه کوو، چې هغه مسلمانو زده کونکې کوم چې سخته اوږده روژه يې تجربه کړي وي، د يوې منځمهالې مودې لپاره د روژې څخه ګټه پورته کولې شي، ځکه چې دوی خپل کړه وړه او ټولنيز چلند بدلوي. په دې توګه د ساينسي څېړنې مشر ښاغلی هوررننګ د خپلې څېړنې پايلې لنډېر بيان کړ. دغه څېړنه د جرمني کانستانس پوهنتون او د سويس د برن پوهنتونونو په ګډون د اقتصادي چلند تنظيمونکی ژورنال کې خپره شوې ده. څېړنکو ساينسپوهانو د اتمو ټولګيو زده کونکو په اړه ډاټا يا مالومات د څو کلونو راهيسې راټول کړي او هغه يې په نړيوالو څېړنيزو مرکزونو لکه د اروپا لپاره(PISA) او د نړيوالو زده کونکو لپاره (TIMSS) کې تر څېړنې لاندې نيولې دي.
څېړنپوهانو د دې پوښتنې څېړنه ترسره کړې، چې ايا د روژې مياشتې ورسته روژه د زده کونکو په ښوونېزه فعاليت يا سويه باندې اغېز لري او يا د روژې ورځنۍ اوږدوالی په کې رول لوبوي.؟
په داسي حال کې چې د روژې نېټه هر کال اټکل لس ورځې مخته راځي. د روژې ورځنۍ اوږدوالی د لمر راختلو او لمر لويدو په وخت پورې اړه لري او په دې توګه روژه د کال په هغه وخت پورې اړه لري، چې د روژې مياشت په کې راځي.
پايله:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هغه زده کونکي چې سخته اوږده روژه يې تجربه کړي وي، په راتلونکي کال کې په اوسط ډول ښوونښزه فعالیت او لیاقت يې تر نورو ښه کیږي او ښې نمرې ترلاسه کوي. ساینسپوهانو په دې توانیدلي دي، چې دغه مثبت اغیز د (TIMSS) په نړیوال څېړنیز مرکز کې د راټول شویو ډاټا یا مالوماتو په بنسټ د هغو هیوادونو په اړه په کومو کې چې اکثریت مسلمان وګړي په کې ميشت دي، ثابت کړي. په هغو هیوادونو کې چې اکثریت غیر مسلمان وګړي ميشت دي، دغه ښوونښزه ښه فعالیت په کې ونه لیدل یا راڅرګند نه شو. د روژې میاشت ځنګه په یوه منځمهاله موده کې د زده کونکو په ښوونښزه فعالیت باندې مثبت اغیز کوي، د نورو شیانو په منځ کې په دې پورې هم اړه لري، چې ایا د هغه نور نړیدې ډېرې ځوان ملګري هم روژه ونیسي.
دغه ترسره شوي څېړنه د اتو اروپایي هیوادونو له لورې د (PISA)علمي مرکز ته د ورکړل شویو ډاټا یا مالوماتو په بنسټ هم تائید شوي. په هغو کلونو کې چې د روژې نیولو ورځې اوږدې وې، د مسلمانو کورنیو ځوانانو نارینه او ښځینه د(PISA) په ازموینو کې د نورو غیر مسلمانو په پرتله تر ټولو ښې نمرې ترلاسه کړي دي او په هغه کلونو کې چې د روژې ورځې لنډې وې، بیا مسلمانو زده کونکو د لنډې روژې د مودې په پرتله لږ کمې نمرې ترلاسه کړي دي. دغه اغیز په هغو ښوونځیو کې چې د مسلمانو زده کونکو شمېر یا لوړه سلنه لري، ډیر ښه څرګند شوي، نسبت په هغو ښوونځیو کې چې مسلمانانو سلنه په کې ټېټه وه. ساینسپوهان د روژې دغه اغیز د روژې هویت پیژندنې یوې بلې نښې په توګه تشریح کوي. کوم چې روژه د زده کونکو په ښوونښزه فعالیت باندې مثبت اغیز لري.
پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ